ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY


د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنی

ګڼــه: ۰۸ | مسلسل نمبر: ۱۴۶

چهارشنبه، محرم الحرام ۱۵، ۱۴۴۸هـ. ق کال

# اباډي
پنځلس ورځنۍ

## قزاقستان په کابل کې د درملو د پلور ځانګه او د سوداګرۍ خونه پرانیزي



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو د لار نقشې پر ژر نهایي کېدو ټینګار وکړ



۲مه صفحه

## تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۳،۵ میلیارده افغانیو په لګښت ۱۶ پروژې منظورې کړې



۳مه صفحه



## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۳۰ مه نېټه د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال او د اقتصاد وزیر ښاغلي سریک ژومانګارین سره وکتل. په دې لیدنه کې د اقتصادي همکاریو د لار نقشې پر ژر نهایي کېدو خبرې وشوې. د دې لار نقشې په عملي کېدو سره د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د سوداګرۍ حجم درې میلیارد ډالرو ته رسیدای شي. دا لار نقشه د کرنې، کانونو استخراج، ترانسپورټ، اوسپنې پټلۍ او صنعت برخو کې ګډ کار کول، د کرنیزو محصولاتو د صادراتو او وارداتو زیاتوالی، د بانکي اړیکو پیاوړتیا، د کرنې او مالدارۍ اړوند موافقتنامې، د مالي بازارونو په برخه کې تخنیکي همکاري، د داخلي اسعارو کارول، د ترانسپورټي او لوژستیکي همکاریو پراختیا، د افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان د ګډ مرکز جوړېدو وړاندیز او په خارګوس بندر کې د افغانستان اړوند وارداتي توکو لپاره د لوژستیکي مرکز جوړولو غوښتنې په څېر موضوعات را نغاړي. دا خو جوته ده چې افغانستان او قزاقستان په منځنۍ آسیا کې دوه مهم هېوادونه دي او افغانستان بیا د قزاقستان لپاره د جنوبي آسیا او نړیوالو بازارونو پر لور د تګ مهمه دروازه بلل کېږي. په افغانستان کې واک ته د اسلامي امارت له رسېدو وروسته له قزاقستان سره اقتصادي اړیکې پراخې شوې دي. که څه هم دواړه هېوادونه ګډه پوله نه لري، خو د سوداګرۍ، ترانزیټ، کرنې، انرژۍ، لوژستیک او دې ته ورته نورو برخو کې یې اړیکې ورځ تر بلې پیاوړې شوې دي. قزاقستان د منځنۍ آسیا تر ټولو لوی اقتصاد لري، په داسې حال کې چې افغانستان بیا د جنوبي او منځنۍ آسیا ترمنځ د وصل مهمه جغرافیایي نقطه ګڼل کېږي. په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې له دې فرصت څخه اعظمي ګټه پورته کړي او د قزاقستان په ګډون د منځنۍ اسیا د نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو د ټینګښت له لارې خپل اقتصاد پیاوړی او پر خپلو پښو ودروي. همدا اوس له قزاقستان څخه افغانستان غنم او اوړه، غوړي، کیمیاوي سره، فلزي محصولات، د تیلو او انرژۍ محصولات، درمل او طبي تجهیزات او ساختماني توکي واردوي او له افغانستان څخه بیا یاد هېواد ته وچې او تازه مېوې، سبزیجات، زعفران، غالۍ او لاسي صنایع صادرېږي. که چیرې د اقتصادي همکاریو یاده لار نقشه نهاي او عملي بڼه غوره کړي، نو له یوه لوري به په بېلا بېلو سکټورونو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شي او له بل لوري به زموږ د سوداګرۍ او ترانزیټ کچه لوړه شي. په دې سره به زموږ صادرات نه یوازې قزاقستان بلکې د منځنۍ اسیا په ګډون د نړۍ نورو هېوادونو ته هم زیات شي. دا چاره بیا د دې لامل ګرځي چې په کور د ننه به د بېلا بېلو تولیداتو د کچې په زیاتیدو سره د هېوادوالو اقتصادي وضعیت هم پیاوړی شي او په ټوله کې به سوداګري پراختیا ومومي. د دې ترڅنګ به نه یوازې د افغانستان اقتصاد غښتلی او پر خپلو پښو ودریږي بلکې دا به د سیمه ییز اقتصاد په پیاوړتیا او پرمختګ کې هم مهم رول ولوبوي.

## قزاقستان په کابل کې د درملو د پلور ځانګه او د سوداګرۍ خونه پرانيزي

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمريز کال د غبرګولي مياشتې په ۳۰مه نېټه د ارګ په چهارچنار مانۍ کې د قزاقستان د لومړي وزير له مرستيال او د اقتصاد وزير سرېک ژومانګارين سره وکتل. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ياد هيئت ته ښه راغلاست ووايه او د لوړ رتبه مسوولينو سفرونه يې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاريو د پراختيا په برخه کې مهم وبلل. د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال خوښي



څرګنده کړه چې په وروستيو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې زياتوالی راغلی دی. هغه وويل، چمتو دي چې هرات ولايت ته د قزاقي اورګاډي د صادراتو د ترانسپورټ په برخه کې سبسايډي ورکړي او همدارنګه په کابل کې د قزاقستاني درملو د پلور ځانګه او د سوداګرۍ خونه هم پرانيزي. ښاغلي ژومانګارين زياته کړه، د مالي اسانتياوو رامنځته کېدو لپاره د افغانستان بانک او غضنفر بانک کې د خپلو حسابونو پرانيستلو، په افغانستان کې د بېلابېلو کانونو، په ځانګړي ډول د کرومايټ او زينک ډبرو د اکتشاف او استخراج، کيمياوي سرې توليد او د دې ترڅنګ د مزارشريف – هرات- کندهار – سپين بولدک اوسپنې پټلۍ شبکې د جوړولو په برخه کې عملي همکاريو ته چمتو دي. د دې ليدنې پرمهال قزاقي لوري د افغانستان خوراکي توکو د صادراتو زياتوالي ته لېوالتيا ښوده او ويې ويل، چې د دوه اړخيزې سوداګرۍ د زياتوالي لپاره به پر افغاني توکو ماليې راټيټې کړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له قزاقي لوري منته وکړه او ډاډ يې ورکړ، چې په يادو برخو کې به د افغانستان اسلامي امارت اړوند اداري ورسره ګډ کار او همکاري وکړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اقتصادي همکاريو د لار نقشې پر ژر نهايي کېدو ټينګار وکړ

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمريز کال د غبرګولي مياشتې په ۳۰مه نېټه د ارګ په چهارچنار مانۍ کې د قزاقستان د لومړي وزير له مرستيال او د اقتصاد وزير سرېک ژومانګارين په مشرۍ راغلي هيئت سره وکتل. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال افغانستان او قزاقستان مهم سوداګريز شريکان وبلل او هيله يې څرګنده کړه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاريو لار نقشې په تطبيق سره به د سوداګرۍ حجم درې



ميليارډ ډالرو ته ورسېږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، د کرنې، کانونو استخراج، ترانسپورټ، اوسپنې پټلۍ او صنعت برخو کې ګډ کار کول، د کرنيزو محصولاتو د صادراتو زياتوالی، د بانکي اړيکو پياوړتيا، د کرنې او مالدارۍ اړوند موافقتنامې، د مالي بازارونو په برخه کې تخنيکي همکارۍ، د داخلي اسعارو کارول، د ترانسپورټي او لوژستيکي همکاريو پراختيا، د افغانستان، ايران، قزاقستان او ترکمنستان د ګډ مرکز ورانديز او په خارګوس بندر کې د افغانستان اړوند وارداتي توکو لپاره د لوژستيکي مرکز جوړولو غوښتنه د دې لار نقشې مهم برخې دي. محترم ملا صاحب زياته کړه، افغانستان د يادې لار نقشې مسوده له خپل لوري نهايي کړې او له قزاقستاني لوري هم غوښتنه کوي، چې د دوی اړوند برخې نهايي او تطبيق ته يې زمينه برابره کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اقتصادي همکاريو د پراختيا لپاره د خصوصي سکتور رول مهم وباله او ويې ويل، د سوداګريزو نندارتونونو، ګډو اقتصادي فورمونو، د سوداګرۍ خونو ترمنځ د همکاريو او د سوداګرو د متقابلو سفرونو ډېروالی کولای شي نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته

او د پانګونې کچه لوړه کړي. وروسته ښاغلي سريک ژومانګارين خبرې وکړې او ويې ويل، د قزاقستان لومړی وزير له افغانستان سره د اړيکو پراختيا او اقتصادي همکاريو زياتوالي ته ځانګړې توجه لري او تنني سفر يې هم د هغه په هدايت شوی. ښاغلي ژومانګارين زياته کړه، چې هېواد يې له افغانستان سره د زړه ناروغيو د تشخيص، امنيتي سکتور د پياوړتيا او همداراز د اوبو مديريت په برخه کې همکاريو ته چمتو دی. نوموړي وويل، دوی به په کابل پوهنتون کې د اوبو مديريت لپاره يو علمي مرکز پرانيزي چې افغان متخصصينو ته به روزنه ورکوي. په دې غونډه کې همداراز د ترانسپورټ، صادراتو او وارداتو د زياتوالي، بانکي اسانتياوو رامنځته کولو، د اقتصادي همکاريو د لار نقشې د ژر نهايي کېدو او يوشمېر نورو موضوعاتو په اړه هم بحث وشو او ټينګار وشو، چې په دې اړه به تخنيکي کمېټې خپلو کارونو ته دوام ورکړي.

## تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۳,۵ ميلیارده افغانيو په لګښت ۱۶ پروژې منظورې کړې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمريز کال د چنګاښ مياشتې په درېيمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته ۴۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته د شاوخوا ۳,۵ ميلیارده افغانيو په ارزښت ۱۶ پروژې منظورې شوې او په ۲۰ پروژو کې يو لړ اړين تعديلونه راغلل. همداراز د دوه پروژو په اړه ټاکل شويو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د پروژو د



قيمتونو په اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور يې د تدارکاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي. د دوه پروژو قراردادونه له دې کبله لغوه شول، چې ګټونکي شرکتونه يې د قراردادونو مطابق تطبيق ته چمتو نه وو. دغه شرکتونه له همدې امله د محروميت کمېټې ته معرفي شول. په منظور شويو او تعديل شويو پروژو کې د بادغيس ولايت د قادس خوردک د اوبو ذخيروي بند، د بغلان ولايت د کېله ګۍ بند د جيوټيکنيکي مطالعاتو او په پکتيکا ولايت کې د ۶۰۰ متريک ټنه په ظرفيت د سړې خونې د پاتې چارو بشپړول، د امو سيند نفتي حوزې د نفتو د زېرمه کولو لپاره د لس زره ټنه ظرفيت لرونکو تاسيساتو ډيزاين او نصب، د ارزګان ولايت په چهارچينو ولسوالۍ کې د ۵۰ بستريز عمومي روغتون جوړول، د ارزګان ولايت مرکز ترينکوټ کې د باروړونکو موټرونو لپاره د ترمينل جوړول، د کابل ښار يو شمېر داخلي سړکونو جوړول او په مختلفو ولايتونو کې د برېښنا رسونې او توزيع پروژو بشپړول شامل دي. يادې منظورې شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له بوديجې تمويلېږي.

## د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمريز کال د چنګاښ مياشتې په اوومه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. په غونډه کې د نوې کورنۍ او بهرنۍ



پانګونې د هڅونې او جذب لپاره د مالياتي او ګمرکي معافيت د تطبيق پر لارښود بحث وشو. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د دغه لارښود د لا غني کېدو په موخه تخنيکي مجلسونه ترسره او نهايي شوې بڼه يې د اقتصادي کمېسيون راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي. په دې غونډه کې د تخار ولايت په مرکز تالقان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه هم تاييد شوه. د طرحې له مخې به خصوصي سکتور د ۱۱۰ ميليون افغانيو په پانګونې سره اووه پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړ کړي، چې لسګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. د اقتصادي کمېسيون دې غونډې ته د يوشمېر تعقيبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول، چې اړوندو ادارو ته يې په اړه لازمي لارښوونې وشوې. يادې پرېکړې د نهايي تصميم نيونې په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله دفتر ته واستول شوې.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنۍ
اباديِ
پنځلس ورځنۍ



## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د صفوان سیمنټو فابریکې څخه لیدنه وکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۲۹ مه نېټه پروان ولایت ته د خپل سفر پر مهال په جبل السراج ولسوالۍ کې د صفوان سیمنټو فابریکې څخه لیدنه وکړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په صنعتي او تولیدي سکتورونو کې د پانګونې پر اهمیت ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې د افغانستان اسلامي امارت کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د مناسبو اسانتیاوو او فرصتونو برابرولو ته ژمن دی. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سیمنټو یادې فابریکې مسوولینو ته د همکارۍ ډاډ ورکړ. د فابریکې د مسوولینو په وینا، د فابریکې د جوړولو چارې په چټکۍ روانې دي او د فعالیت له پیل سره به یې افغانستان د سیمنټو سکتور کې ځان بسیاینې ته لا نږدې شي.

## بهرنیو هیوادونو ته د اینجي د صادراتو او اړونده ستونزو د حل په اړه بحث وشو

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمریز کال د چنګاښ میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. په دې غونډه کې بهرنیو هیوادونو ته د اینجي طبي بوټي د صادراتو او په دې برخه کې د شته ستونزو د حل په اړه بحث وشو. له بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټه دې د یادې موضوع په اړه هراړخیزه څېړنه وکړي او خپل راپور دې له مشخصو وړاندیزونو سره یوځای اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. اینجه د افغانستان د هغو طبي بوټو له ډلې ده چې په زیاته کچه بهرنیو هیوادونو ته صادرېږي او ډېری هیوادوال په هیواد کې دننه د دغه بوټي په کښت او راټولولو بوخت دي. همدارنګه، دې غونډې ته په هیواد کې د رنګه فلزاتو د وضعیت په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شو، چې د تخنیکي کمېټې له لورې د تایید وړ وبلل شو. دغه راپور د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شو.



# رهنمود سرمایه گذاری

## فرصت های موجود سرمایه گذاری در سکتور زراعت و مالداری

افغانستان با داشتن موقعیت جغرافیایی استراتیژیک، منابع طبیعی فراوان و ظرفیت های بالقوه سرمایه گذاری، در سکتورهای مختلف فرصت های مناسب و مطلوب برای سرمایه گذاری دارد. یکی از این سکتور ها سکتور زراعت و مالداری است. افغانستان یک کشور زراعتی است که نزدیک به ۷۵ در صد باشندگان آن به صورت مستقیم و غیر مستقیم در بخش زراعت و مالداری مصروف می‌باشند. از اینرو، سکتور زراعت بیشترین سهم را در ایجاد کار دارد. نزدیک به ۱۲ درصد از مجموع زمین های افغانستان قابل کشت می‌باشد که در حال حاضر تنها حدود ٦ در صد آن زیر کشت قرار دارد. ۳۳،۷ در صد تولید ناخالص داخلی کشور از سکتور زراعت به دست می آید و محصولات زراعتی افغانستان در سطح جهان از شهرت خاص برخوردار است. در شرایط کنونی، میکانیزه سازی سکتور زراعت می‌تواند نقش کلیدی در تقویت اقتصاد کشور ایفا نموده و مواد خام مورد نیاز صنایع داخلی را فراهم سازد. فرصت های عمده سرمایه گذاری در این سکتور عبارت اند از:

- سرمایه‌گذاری در کشت و پرورش انواع نباتات، به خصوص نباتات صنعتی و طبی، با توجه به فراوانی آب، زمین های زراعتی و اقلیم مناسب؛
- سرمایه‌گذاری در تنوع بخشی و تحقیق در بخش زراعت و مالداری متناسب با نیازهای کشور؛
- سرمایه‌گذاری در توسعه زیربناهای زراعتی و میکانیزه سازی زراعت؛
- سرمایه‌گذاری در ایجاد فارم های زراعتی و مالداری و گلخانه‌ها؛
- سرمایه‌گذاری در ایجاد مکان های معیاری و سردخانه ها به‌منظور نگهداری محصولات زراعتی و حیوانی؛
- سرمایه‌گذاری در بخش پروسس و بسته‌بندی محصولات زراعتی و حیوانی؛
- سرمایه‌گذاری در ایجاد لابراتوارهای معیاری زراعتی و حیوانی و تولید ادویه؛
- سرمایه‌گذاری در ایجاد کلینیک های معیاری به منظور حفظ الصحه نباتات و حیوانات و جلوگیري از آفات؛
- و سرمایه‌گذاری در تولید تخم های اصلاح شده زراعتی و کودهای کیمیاوی.

تمام سرمایه گذاران میتوانند طرح های سرمایه گذاری خویش را در این بخش ها به کمیتهٔ سرمایه گذاری بین الوزارتی زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ارائه نمایند.





# د اینجې صادراتو پراختیا او د هېواد په اقتصاد یې اغېزې

زاهد خان

## سریزه

افغانستان د خپلې مناسبې جغرافیې، اقلیمي تنوع او طبیعي سرچینو له امله د بېلابېلو طبي بوټو د تولید له پاره پراخ ظرفیت لري. اینجه، چې د هېواد له مهمو طبي او صادراتي بوټو شمېرل کېږي، په وروستیو کلونو کې د افغانستان د کرنیز اقتصاد یوه مهمه برخه ګرځېدلې ده. د دې بوټي لوړ نړیوال ارزښت، د لږو اوبو اړتیا او د صادراتو مناسب بازارونه هغه ځانګړتیاوې دي چې د افغان کروندګرو پام یې ځان ته اړولی دی. په ځانګړې توګه په هېواد کې د افغانستان اسلامي امارت له لوري د کوکنارو د کښت له بندېدو وروسته د اینجې کرنه په ګڼو ولایتونو کې پراخه شوې او د هېواد د صادراتو په زیاتوالي کې یې د پام وړ رول لوبولی دی. د دې سکتور د ودې له پاره لازمي پانګونې او پروسس ته اړتیا ده چې کېدلی شي له امله یې د هېواد اقتصادي ودې کچه لوړه شي.

## د اینجې د صادراتو اوسنی وضعیت او اقتصادي ارزښت

اینجه د افغانستان له هغو صادراتي محصولاتو څخه ده چې په نړیوالو بازارونو کې ځانګړی ارزښت لري. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو له مخې، په وروستیو کلونو کې د دې بوټي د کر ساحه او تولید په دوامداره توګه زیات شوي دي. په زرګونه هکتاره ځمکه اینجه کرل شوې او زرګونه میټریک ټنه حاصل ترې ترلاسه شوی دی.

د افغانستان د اینجې عمده صادرات هند، ایران، متحده عربي اماراتو او د امریکا متحده ایالاتو ته ترسره شوي دي، چې په ځانګړې ډول هند یې تر ټولو لوی بازار ګڼل کېږي. د لوړ کیفیت لرونکې اینجه په نړیوال بازار کې په لوړه بیه پلورل کېږي او د افغان کروندګرو له پاره د نورو کرنیزو محصولاتو په پرتله څو برابره زیات عاید برابروي.

د سمنګان، بلخ، تخار، بغلان، فاریاب، بدخشان، جوزجان، غزني، ننګرهار او هلمند په ګډون د هېواد په ګڼو ولایتونو کې اینجه کرل کېږي. د کرنې د کارپوهانو په وینا، دا بوټی د کوکنارو یو مناسب او دوامداره اقتصادي بدیل دی.

## د اینجې صادرات او د هېواد پر اقتصاد یې اغېزې

د اینجې د صادراتو پراختیا د افغانستان پر اقتصاد څو اړخیزې مثبتې اغېزې لري. لومړی، د دې بوټي صادرات د هېواد د صادراتو په زیاتوالي کې مهم رول لوبوي. هر څومره چې صادرات لوړېږي، په هماغه اندازه هېواد ته د بهرنیو اسعارو جریان زیاتېږي.

دویم، د اینجې کرکېله د کلیوالو سیمو د خلکو له پاره د عاید یوه مهمه سرچینه ده. د دې بوټي کر، ساتنه، شیرې راټولول، لېږد، پروسس او سوداګرۍ زرګونه هېوادوالو ته د کار زمینه برابروي. د هلمند، ننګرهار او شمالي ولایتونو تجربې ښیي چې د اینجې یو جریب کرونده د دودیزو فصلونو په پرتله څو برابره لوړ عاید ورکوي، چې دا چاره د بزګرانو اقتصادي وضعیت د ښه کېدو سبب ګرځي.

درېیم، د اینجې صادرات د کرنیزو محصولاتو تنوع ته هم وده ورکوي. افغانستان د اوږدې مودې له پاره په محدودو صادراتي محصولاتو تکیه کړې ده، خو د اینجې په څېر د لوړ ارزښت لرونکو طبي بوټو پراختیا کولی شي د صادراتو ترکیب متنوع کړي او د نړیوالو بازارونو اړتیاوو ته ښه ځواب ووایي.

سربېره پر دې، که د اینجې د پروسس او بسته بندۍ فابریکې په هېواد کې جوړې شي، نو د خامو موادو پر ځای به پروسس شوي محصولات صادر شي، چې په پایله کې به د صادراتو ارزښت لوړ او د هېواد اقتصادي ګټه به څو برابره زیاته شي.

## د صادراتو د پراختیا فرصتونه او شته ننګونې

سره له دې چې افغانستان د اینجې د تولید له پاره مناسب اقلیم او پراخې طبیعي سرچینې لري، خو لا هم د دې سکتور د بشپړې ودې پر وړاندې یو شمېر خنډونه موجود دي. د اصلاح شویو تخمونو کمښت، د بزګرانو محدودې مسلکي زده کړې او د معیاري پروسس او بسته بندۍ د مرکزونو نشتوالی هغه ستونزې دي چې باید جدي پاملرنه ورته وشي.

د اینجې د صادراتو او په دې برخه کې د شته ستونزو د حل په اړه ځینې عملي اقدامات پیل شوي دي. د همدې موخې له پاره د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې په نوبتي غونډه کې، چې د ۱۴۰۵ لمریز کال د غبرګولي میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، بهرنیو هېوادونو ته د اینجې طبي بوټي د صادراتو او په دې برخه کې د شته ستونزو د حل په اړه بحث وشو. د غونډې له پرېکړې سره سم، د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو هراړخیزه څېړنه ترسره کړي او خپل راپور له مشخصو وړاندیزونو سره یو ځای اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي. دا پرېکړه څرګندوي چې د اینجې د صادراتو د

پراختيا موضوع د افغانســتان اسلامي امارت د اقتصادي لومړيتوبونـو لـه جملـې ځخـه ده او د دې سـکتور د لا پياوړتيـا لـه پاره د پاليســۍ او همغږۍ پـر رامنځته کولو تمرکز روان دی.

د دې سـکتور د پراختيا له پاره پـراخ فرصتونه هم موجود دي. د نړيـوال بـازار زياتېدونکـې تقاضا، د افغانسـتان مناسـب اقليـم، د توليـد کـم لګښـت او د کروندګـرو زياتېدونکې لېوالتيا داسـې عوامـل دي چې کولی شي د اينجې صـادرات په راتلونکـو کلونو کې څـو برابره زيات کـړي. د اصلاح شـويو تخمونو توليد، د بزګرانو مسـلکي روزنه، د پروسـس او بسـته بنـدۍ معيـاري فابريکې، د کيفيـت نړيوال معيارونه او د نويو صادراتي بازارونو موندلو تـه ځانګړې پاملرنه په کار ده. دا کارونه کولی شي چې د افغانستان د دې ارزښتناک محصول نړيوال اعتبار نور هم پياوړی کړي.

## پايله

اينجه د افغانســتان له هغو کرنيــزو او طبي محصولاتو ګڼل کېږي چې د صادراتو د پراختيا او د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ستر ظرفيت لري. د دې بوټي کرکېله د افغان بزګرانو له پاره په يوه مناسب او دوامداره عايداتي فرصت بدله شوې ده. که د توليد ترځنګ د پروســس، بسته بندۍ، کيفيت کنټرول او بازارموندنې برخو کې هم لازمه پانګونه وشي، نو افغانســتان بــه وکولی شي د اينجې نړيوال بــازار کې خپل ځای نور هم پيــاوړی کــړي، د صادراتو ارزښــت لــوړ کــړي او د هېواد اقتصادي وده ګړندۍ کړي.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امريکايي ډالر | ٦٥,١٥؋ | ٦٥,٢٠؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ٢٢٥؋ | ٢٢٦؋ |
| ١٠٠٠ | ايراني تومن | ٠,٣٨؋ | ٠,٣٩؋ |
| ١ | اروپايي يورو | ٧٤,٥٠؋ | ٧٤,٧٠؋ |
| ١ | روسي روبل | ٠,٨٣؋ | ٠,٨٣؋ |
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ٧٤٦؋ | ٧٤٤؋ |
| ١ | انګليسي پونډ | ٨٥,٢٠؋ | ٨٥,٥٠؋ |
| ١ | سعودي ريال | ١٧,٣٧؋ | ١٧,٣٨؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٧,٧٤؋ | ١٧,٧٥؋ |
| ١ | چيني ين | ٩,٥٩؋ | ٩,٦٠؋ |

